

: pashto

Informasjon til asylsøkere i Norge

NOAS

# په ناروې کښې پناه غوښتونکو لپاره

# معلومات

دغه رساله د پناه غوښتونکو لپاره د ناروېجي سازمان (NOAS) له خوا جوړه شوې ده.
NOAS د بشري حقوقو یوه غیرحکومتي سازمان دی چې پناه غوښتونکو لپاره معلومات او حقوقي مرستې وړاندې کوي.

په دغه رساله کښې د هغه کسانو لپاره چې په ناروې کې د پناه غوښتنه کوي مهم معلومات شته.

**تاسو د لاندنیو ټکو په هکله لوستلئ شئ:**

- څوک د پناهندګۍ حق لري؟
- چاته د بشري حقوقو پربنسټ د اوسیدلو اجازه ورکول کیږي؟
- کوم هیواد ستاسو د پناهندګۍ غوښتنه باندې غور کوی؟
- په ناروې کښې ستاسو د پناهندګۍ غوښتنه د چا له خوا فیصله کیږی؟
- کله چې تاسو د پناهندګۍ غوښتنه کوئ، نو څه به کیږی؟
- د پناهندګۍ د مرکې لپاره مهمې مشورې
- د یو پناه غوښتونکي په توګه ستاسو حقوق او مکلفیتونه
- د راز ساتلو ږنده

## 1. څوک د پناهندګی حق لري؟

که تاسو خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو په صورت د وژل کیدلو، شکنجه او یا د نورو سختو تیریو له خطره سره مخامخ یاست، نو تاسو د پناهندګی یعني د سیاسی پناهندګی مستحق یاست. که د هیواد چارواکي تاسو څخه حمایت وکولای شی، او یا په هیواد کي ستاسو لپاره یوه امنه منطقه موجوده وي، نو تاسو په ناروې کښي د پناهندګی مستحق نه یاست.

دا چي څوک د پناهندګی حق لري، هغه د نړیوالو تړونونو له خوا تنظیم شوی دی چي ناروې هم مکلف دی چي تعقیب یي کړي.

## 2. چاته د بشري حقوقو پربنسټ د اوسیدو اجازه ورکول کیږي؟

که چیري تاسو د سیاسي پناهندګی شرایط ونلرئ، نو چارواکي بیا هم ګوری چي تاسو ته د بشري شرایطو پر بنسټ، او یا تاسو ناروې سره یو کلکه اړیکي ولری تر څو چي تاسوته د استوګني اجازت درکړل شی.
دغه راز پناهندګی، د اجتماعی یا ټولنیز پناهندګی په نامه یادیږی.

په عمومي توګه، تاسو باید د دغه ډول استوګني ترلاسه کولو لپاره یوه پاسپورټ ولرئ. که چیري چارواکو ته خپل پاسپورټ نه یی ورکړئ، نونتیجه به داوی چي ستاسو د پناهندګی غوښتنه رد شی او یا تاسو ته د استوګني داسي محدوده اجازه درکړل شي چي تاسو لپاره د دایمي استوګني یا له تاسو سره ستاسو د کورنی د یوځای کیدلو اجازي په لاره یو خنډ جوړ شي.

## 3. کوم هیواد ستاسو د پناهندګی غوښتنه باندې غور کوي؟

ټـول هغه کسان چي په ناروې کي د پناه غوښتني په مقصد غوښتنلیک ورکوي د هغوی غوښتنلیکونه په ناروې کي نه فیصله کیږی. د دوبلین همکاری د اروپایي هیوادونو ترمنځ د همکاری یو قرارداد ده. دا په دې معنی چي یوازې یوه هیواد د ستا د پناغوښتني د فیصلې دنده په غاړه لری.

کیدای شي چي ستاسوغوښتنلیک د دوبلین د تړون په یو بل غړي هیواد کي ترغورلاندی ونیول شی چي په هغه هیواد کی:

- ستاسو د ګوتو نښي ثبت شوي وي
- تاسو د پناه غوښتنه ورکړې وي
- تاسو یوه ویزه یا د استوګني جواز ولرئ
- تاسو نژدي کورنی ولرئ

ناروېجي چارواکي معمولا له دوو څخه ترشپږو میاشتو پوري وخت ته ضرورت لری ترڅو چي څیرنه او پریکړه وکړي چي تاسو یو بل هیواد ته و لیږدوی.

د مفصلو معلوماتو لاس ته راوړلو لپاره تاسو کولی شئ چي له NOAS څخه د دوبلین د تړون په هکله یوه بله رساله ترلاسه کړئ.

## 4. په ناروې کښي ستاسو د پناه غوښتني غوښتنلیک د چا لخوا فیصله کیږی؟

د ناروې د کډوالو ریاست (UDI) د ناروې د حکومت یوه برخه دی. د وی له تاسو سره مرکه کوي او پریکړه کوي چي آیا تاسو ته د استوګنی اجازه درکړل شي او که نه؟ UDI د پناه غوښتني ټول غوښتنلیکونه دقیق ګوری او هرغوښتنلیک په ځانګړی توګه تر غور لاندی نیسی.



## 5. کله چې د پناهندګۍ لپاره غوښتنه ورکوئ وروسته به څه پېښیږي؟

**تاسو له پولیسو سره د یوه پناه غوښتونکي په توګه خپل نوم ثبتوئ**

پولیس به ستاسو عکس او د ګوتو نښې واخلي. هغوی به له تاسو څخه د ستاسوهویت او ناروې ته د راتګ په هکله پوښتنې کوي. UDI به دا هم پوښتنه کوي چې ولې تاسو د پناه لپاره درخواست ورکوئ. که تاسو سره د هویت سندونه موجود وي، نو باید چې د نوم د ثبتولو په وخت وروسپارئ.

**تاسو په یو کیمپ کښې ځای په ځای کیږئ**

د نوم دثبتولو څخه وروسته تاسو په یو کیمپ کې ځای په ځای کیږئ. په دغه کیمپ کښې تاسو پس له یوه لنډ مهاله استوګنې نه وروسته، یو بل ترانزیت کیمپ ته انتقالیږئ، او یا یو بل معمولی کیمپ ته. د کیمپ کارکوونکی به تاسوته د ستاسو د مکلفیتونه او حقوقو په هکله مفصل معلومات درکړي.

**تاسوڅخه د سل یا تویبرکلوز معاینه ترسره کیږي**

په کیمپ کښې په لومړیو څو ورځو په ترڅ کښې به د سل یا تویبرکلوز د ناروغی د معلوموللو لپاره تاسوڅخه معاینه ترسره کیږي. دا ټولو باندې جبری ده. که تاسو کومې جدي روغتیایي ستونځې ولرئ چې عاجل تداوی ته اړتیا ولري، نو باید روغتیایي مرکزته خبر ورکړئ.

**NOAS تاسوته معلومات درکوی او لارښوونه کوی**

د څو لومړیو ورځو په کیمپ کښې به NOAS تاسو ته معلوملت درکړی. NOAS د بشری حقوقو یوه غیردولتی موسسه ده چې په ناروې کښې د پناه غوښتونکو لپاره کار کوی. په کیمپ کښې د NOAS رول دا دی چې د پناه غوښتونکو لپاره معلومات او لارښوونې وړاندې کړي. تاسو ته به د پناه غوښتنې د پروسې په هکله یو معلوماتي فلم ښودل کیږي او بیا د NOAS یوه کارکونکی له تا سره خبرې اترې کوی. د خبرو اترو مقصد دا دی چې تاسو له UDI سره د مرکې لپاره چمتوکړي. دا مهمه ده چې تاسو د خبرو اترو په ترڅ کښې ټولې هغه پوښتنې چې د پناهندګۍ په هکله لرئ هغه پوښتنه وکړئ. خبرې اترې به په یوه داسې ژبه ترسره شي چې تاسو پرې ښه پوهیږئ.



که دا احتمال موجود وي چې تاسو به د ډوبلین د تړون له مخې کوم بل اروپایي هیواد ته لیږدول کیږئ، نو ډیره مهمه ده چې دا څرګنده کړئ ترڅو چې صحیح معلومات ترلاسه کړئ.
د NOAS کارکوونکي د راز ساتلو ډنده لري.

**UDI به له تاسر مصاحبه (مرکه) وکړي**
د پناه غوښتني مرکه یا انټرویو تاسو لپاره ترټولو څخه مهمه موقع دی چې تاسو د خپلې پناهندګی دلیلونه وړاندې کړئ. د پناه غوښتني مرکه معمولاً څو ساعته دوام کوي. ټول هغه پیښې چې په هیواد کښې تاسو باندې تیرې شوی په مفصله او ځانګړی توګه بیان کړئ او دا هم توضیح کړئ چې هیواد ته د بیرته تک په صورت څه شی نه وېربیږئ.
د مرکي په جریان کي به یوه ترجمان حاضر وي. ترجمان د راز ساتلو ډنده لری او بې طرفه دی. که تاسو د خبرو اترو په پوهیدلو کښې ستونځې لرئ نو باید ژرترژره مرکه کوونکی ته خبر ورکړئ.
د پناه غوښتني د مرکي په پای کي تاسو د مرکي راپور لاندې لاسلیک کوئ. ترجمان به دغه راپورتاسو لپاره ولولي. که تاسو هیله لرئ چې په راپور کي کوم بدلون راشی نو باید چې د لاسلیک کولو څخه مخکښې یې یادونه و کړئ.

**تاسو یو دایمی کیمپ ته لیږدول کیږئ، اوهلته تر هغه وخته پورې پاتې کیږئ چې UDI ستاسو دوسیه فیصله کړی.**
په کیمپ کښې استوګنه وړیا ده. تاسو کولی شئ چې د UDI څخه د ځواب ترلاسه کولو د انتظار په دوران کښې چیرته شخصي ژوند وکړئ، خو په هغه صورت کي به تاسو سره کومه مالي مرسته نه کیږی. که تاسوبل چیرته ژوند کوئ، نو باید چې د کیمپ کارکوونکی ته اطلاع ورکړئ. هغوی به ستاسو نوی پته ثبت کړي تر څو چې د UDI مکتوب تا ته ورسیږی.

**نوی معلومات**
که تاسو د پناه غوښتني د مرکي څخه وروسته کوم نوی معلومات ترلاسه کړئ چې ستاسو د پناه غوښتني لپاره مهم وي، تاسو باید ژر ترژره UDI ته خبر ورکړئ. واضع کړئ چې ولې تاسو دغه معلومات مخکښې ذکر کړي ندي.
د کیمپ کارکوونکی به تاسره مرسته کوی چې تاسو دا کار څنګه وکړئ.

**تاسو له UDI څخه د ځواب په تمه یاست**
کیدای شي چې یو ډي آی له څو اونیو څخه تر یوه کاله څخه زیات وخت ونیسی ترڅو چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنلیک فیصله کړی. دلیل یې دا دئ چې کیدای شي یو ډي آي وغواړي د ستاسو د ورکړل شویو معلوماتو په هکله پلټنه وکړي چې ریښتیا دئ که نه. او یا کیدای شي چې یو ډي آی وغواړی ستاسو د هیواد د وضعیت په هکله پلټنه وکړي، یا دا چې ډېر زیات خلک د یو ډي آی څخه د ځواب په تمه وي.

## یو ډي آی تاسو ته یو ځواب درکوی: د استوګنې اجازت او یا منفی ځواب

**د استوګنې اجازه**
که تاسو د استوګنې جواز یا اجازت ترلاسه کړئ، نو تاسوته په یوه کمون کښې ځای درکول کیږي. د کیمپ کارکوونکی به تاسو ته مفصل معلومات درکړی.

**منفی ځواب**
که ستاسو غوښتنلیک رد شي، تاسو حق لرئ چې اعتراض یا شکایت وکړئ. تاسو ته به مفت وکیل ټاکل کیږی، معمولاً پنځه ساعته چې تاسره د اعتراض لیک په هکله مرسته کوی. تاسو باید چې په دري اونیو دننه اعتراض وکړئ. تر هغه وخته پورې چې ستاسو اعتراض یا شکایت تر کتنه لاندې دی معمولاً په ناروې کښې پاتې کیدی شئ، او که یو ډي آی باور ولري چې ستاسو غوښتنلیک کاملاً بې اساسه ده، نو تاسو د استوګنه حق نلرئ.

**د ناروې د کډوالو لپاره د شکایت کمیټه (UNE)**
UNE به ستاسو شکایت باندې غور وکړي. UNE کولی شي چې تاسو یوې مرکې ته راوغواړي یا له تاسو څخه غوښتنه وکړي چې اضافي معلومات ور ولیږئ.

**که تاسو ته منفی ځواب درکړل شی، نو باید خپل هیواد ته ستانه شئ**
تاسو باید د پولیسو له خوا په ټاکلې ضرب الاجل، معمولاً دوه اونیو کې دننه خپل هیواد ته ستانه شئ. د دغه ضرب الاجل له تیریدو سره ستاسو استوګنه په دغه هیواد کښې غیرقانوني ده.
که تاسو وروستنی منفی ځواب ترلاسه کړئ او UNE هم د یو ډي آی د فیصلې سره موافق وی، نو تاسو ته دوه امکان شته: یا په خپله خوښه د کډوالو د نړیوال سازمان (IOM) له لارې خپل هیواد ته ستانه شئ او یا د پولیسو له خوا شړل کیږئ (جبری سفر).

**د IOM له لارې په خپله خوښه ستنید ل**
د ناروې چارواکي به تاسو لپاره ترتیب ونیسي چې خپل هیواد ته په خپله خوښه بیرته ستانه شئ. په خپله خوښه ستنیدل په دې معنی دئ چې ته پخپله د خپل سفر په هکله همکاری کوئ یعنی تاسو په ناروې کښې له بیرته ستنیدو پروګرام څخه غوښتنه کوئ چې دغه پروګرام په ناروې کښې د په خپله خوښه ستنیدو پروګرام (VARP) په نامه یادیږی، شاملیږئ.

VARP – پروګرام د یو ډي آی او آی او ایم ترمنځ یوه همکاري ده چې خپل هیواد ته د ستاسو ستنیدل تنظیموي. کله چې تاسو په خپله خوښه ستنیږئ، نو د ناروې حکومت ستاسو د بیرته ستنیدو لګښت ور کوي.

ټول هغه کسان چې په ناروې کې د استوګنې جواز نه لري کولی شي چې د خپلې خوښې د ستنیدنې غوښتنه وکړي. که ستاسو د پناه غوښتنه رد شوې وي، نوتاسو د ناروې د پریښودلو لپاره محدود وخت لرئ. که تاسو هیله لرئ چې په خپله خوښه ستانه شئ، باید چې د پناه غوښتنې د منفی ځواب سره سم آی او ایم ته یو غوښتنلیک ولیږئ.
که ستاسو غوښتنلیک قبول شی، نو آی او ایم به تاسو ته لارښودنه او مرسته وکړي چې تاسو د سفر سندونه ترلاسه



کړئ او ټکټونه واخلئ. د دې لپاره چې د آی او ایم له لارې ستانه شئ تاسو باید یو قانوني پاسپورټ یا بل سفري سند چې ستاسو په هیواد کې د چارواکو له خوا تاسو له پاره صادر شوی وي د ځان سره ولرئ. که تاسو یو قانوني پاسپورټ یا سفري سند ونه لرئ، آی او ایم به له تاسو سره د نږدی سفارت/قونسلګری څخه د نوموړو اسنادوپه تر لاسه کولو مرسته وکړی. که تاسو وغواړئ آی او ایم به له تاسو سره د سفر په وخت او خپل هیواد ته د رسیدلو سره سم له تاسو سره مرسته وکړي.

تاسو کولی شئ چې د خپلې خوښې د ستنیدنې په هکله مفصل معلومات او ستاسو د غوښتنلیک د فورمو د ډکولو په اړه زیات معلومات له کیمپ، د یو ډي آی له سیمه ایزې ادارې یا آی او ایم څخه مرسته ترلاسه کړئ.

**په زور شړل**
که له وروستني منفی ځواب څخه وروسته تاسو په خپله خوښه خپل هیواد ته ستانه نه شئ، نو پولیس به تاسو د ضرب الاجل د پوره کیدلو سره سم له دې خاورې څخه وشړی.

د جبری شړلو په صورت باید تاسو پخپله د خپل سفر لګښت ورکړئ. که تاسو نشئ کولی چې د الوتکې د ټکټ لګښت ورکړئ نو حکومت به یې درته واخلي، خو تاسو مجبور یاست چې دغه لګښتونه بیرته ورکړی. که تاسو د جبری شړلو لپاره لګښت ورنه کړئ، کیدای شي چې په راتلونکي کښې تاسو ته د ناروې او نورو اروپایي هیوادونو د سفر ویزه او د ننوتلو اجازه ورنه کړل شي.

**که تاسو کوم جرم کړی وی**
که چیرې کوم جرم و کړئ، نو ستاسو د پناه غوښتنلیک به په ډېره چټکی سره فیصله کیږی تر څو چې تاسو ډېرژر ناروې څخه وشړی. که تاسو کوم غیرقانونی عمل ترسره کړئ بیا هم کیدای شي چې تاسو له ناروې څخه وشړی او نتیجه یې به دا وی چې تاسو بیا نشئ کولئ چې په راتلونکي کې ناروې او ډېرو نورو اروپایي هیوادونو ته سفر وکړی.

## 6. د پناه غوښتې د مرکې لپاره مهمې مشورې

- په تفصیل سره باید ووایئ چې ولې هیواد پرېښودلو ته مجبور شوې، او که بیرته خپل هیواد ته ستون شئ څه شي نه وېرېږی.
- خپلې ویناوې خپل ځان باندې متمرکز کړئ چې په تا باندې څه تیر شوی او که بیر ته خپل هیواد ته ستون شې څه به پیښ شی. د خپل سن په هکله صحیح او مفصل ځوابونه باید ورکړئ.
- ترممکنه حده پورې باید دقیق وغږیږئ.
- که تاسو سره ماشومان وی، نو د هغوی د وضعیت په هکله او څه چې هغوی باندې تیر شوی معلومات ورکړئ.
- که کومې پوښتنه باندې پوه نشئ، نو مصاحبه کوونکې څخه پوښتنه وکړئ چې تاته تشریح درکړی.
- که تاسو سره داسی سندونه وې، چې د پناه غوښتلو پورې اړیکه ولري، نو د مصاحبې په ورځ یې له ځانه سره راوړئ.
- رېښتیا ووایه! د غلط معلومات ورکولو په صورت کیدای شی چې ستاسو د پناغوښتنی غوښتنه رد شی. دا خطر هم شته چې ته له ناروې څخه وشړل شئ او په راتلونکی کښې نشې کولای چې ناروی او نورو اروپایی هیوادونه ته سفر وکړئ.

**ښځینه پناه غوښتونکي**
کیدای شي چې د ښځو ستونځې له نارینو څخه توپیر ولری. او پر ځینو ستونځو باندې هغوی ته خبرې کول سخت وی، په ځانګړی توګه نارینو (سړو) ته. که تاسو هیله لرئ، نو کولی شئ چې NOAS د د کارکوونکو له ډلې څخه له یوې ښځینه کارکوونکی سره خبرې وکړئ. د معلوماتي فلم د کتلو څخه وروسته سمدلاسه NOAS ته خبر ورکړئ.
همدارنګه تاسو کولی شئ چې له یو ډي آی سره د مرکې لپاره د یوې ښځینه مرکه کوونکې او یوې ښځینه ژباړونکی غوښتنه وکړئ. تاسو کولی شئ چې له NOAS سره د خبرو اترو پرمهال دغه غوښتنه وکړئ.

**آیا تاسو له ځان سره له 18 کلو څخه کم عمر ماشومان راوړی دې؟**
د ماشومانو وضعیت د ستاسو د پناهندګی د فیصلې په وخت کښې ستر رول لری. یو ډي آی هیله لري چې پوه شی چې آیا ماشومان د پناه غوښتنې لپاره خپل دلایل لري، او دا چې ماشومان خپل وضعیت څنګه ګوري. دا مهمه ده چې تاسو دغه معلومات د پناه غوښتنې په مرکه کې یو ډي آی ته ورکړئ.

یو ډي آی هغه ماشومانو سره چې د اوو کلونو څخه لوړوی، هم مرکه کوي. دا مهمه ده چې ماشومانو ته موقع برابر شی تر څو چې هغوی هم خپل سرګذشت باندی په خپله خبرې وکړی. ځیني وخت ماشومانو باندې د لویان په پرتله سختې ستونځی راځی. که چیرې ماشومان دا نه غواړی، نو یو ډي آی هیڅکله هغوی سره مرکه نکوي.

## 7. د یوه پناه غوښتونکي په توګه ستاسو مکلفیتونه او حقوق

**تاسي مکلف یاست چې د خپل هویت د تثبیتولو په اړه همکاری وکړی**
د ناروې دولت لپاره مهمه ده چې پوه شي چې ته څوک یې او څو کلن یې. نو له همدې امله ضروری ده چې هغه سندونه چې ستا هویت تثبیتوی، ور وسپارئ. که چیرې په خپل هیواد کښې د امنیتي ځواکونو تر تعقیب لاندې یاست، نو د ناروې حکومت تا څخه نه غواړی چې له هغوی څخه دخپل هویت د تثبیتولو لپاره تصدیق راوړئ.

که چیرې د ناروې چارواکي ستا د هویت په هکله شکمن وی، نو دا خطر شته چې:

- په تا باندې بـاور ونشی.
- ستا د اوسیدلو د اجازې د ترلاسه کولو چانس به کم شي.
- هغه حقوق به له لاسه ورکړئ کوم چې تا مخکښې به درلودل.
- تاته به د اوسیدلو محدوده اجازه لیک درکړل شي.

**تاسو مکلف یاست چې صحیح معلومات ورکړې**

د یو پناه غوښتونکې په توګه باید دا واضح کړې چې ولې پناه غواړئ؟ له همدې کبله باید هڅه وکړئ ټول اړین معلومات د همکارۍ په خاطر وړاندې کړئ.

د بل چا مشورې ته غوږ مه ایږدئ. هغه څه چې په ریښتیا تاسو باندې تیر شوی ناروې چارواکو ته ووایئ.

غلط معلومات ورکول د سزا وړ دی او کیدای شی چې تا د ناروې څخه د شړلو سبب وګرځی.

**د پناه غوښتونکي په توګه د کار کولو حق لرئ**

کله چې تاسود خپلو د پناه غوښتنلیک فیصلې ته په تمه یاست، او که تاسو د خپل هویت سند وړاندې کړئ او ستاسو کیس د ډوبلین تر تړون لاندې نه وی، نو تاسو کولی شئ چې د کار جواز ترلاسه کړئ. د کار جواز تر شپږو میاشتو پورې اعتبار لري خو کیدای شي چې بیا نوی شي.

**تاسو حق لرئ چې روغتیایي تداوي ترلاسه کړئ**

تاسو حق لرئ چې د پناه د غوښتنلیک د مراحلو د طی کیدلو لپاره د انتظار پر وخت هغه صحي تداوي چې تاسو ورته اړتیا لرئ ترلاسه کړئ. له ۱۲ کلنئ څخه د کم عمر د ماشومان درملنه وړیا ده. معمولاً د ناروی ټول اوسیدونکی باید د فیس یوه برخه پخپله ورکړی. که تاسو د روان پوه مرستې ته اړتیا ولرئ کولی شئ چې له یو ډي آی څخه غوښتنه وکړئ چې ستاسو لګښت درکړي. د نورو معلوماتو لپاره د کیمپ له کارکوونکو سره اړیکه ونیسئ. که تاسو سخته روغتیایي ستونځې ولرئ، نو باید یو ډي آی ته خبر ورکړئ.

**تاسو کولای شئ چې خپل پناه غوښتنلیک بیرته واخلئ**

تاسو هر کله کولی شئ چې د خپل پناه غوښتنلیک بیرته واخلئ. نوپه هغه صورت کښې کیدای شي چې تاسو له آی او ایم څخه غوښتنه وکړئ چې خپل هیواد ته د بیرته ستنیدو په لړ درسره مرسته وکړي.

## 8. د راز ساتلو ژمنه

پولیس، UDI, UNE، ژباړن، وکیل، روغتیایي پرسونل او NOAS ټول د راز ساتلو ژمنه لري. دا په دې معنی چې هغوی نشي کولی چې ستاسو د پناهندګۍ د غوښتنې په هکله ستاسو د هیواد چارواکو ته معلومات ورکړي.

همدارنګه هغوی نشي کولی چې ستاسې خبرې هغه کسانو ته وکړی چې ستا کیس سره هیڅ کوم اړیکې نلري.

د راز ساتلو له دندې څخه سرغړونه د سزا وړ دی. له دې امله تاسو باید د پناهندګۍ د دلیلونه د بشپړ توضیح کولو څخه مه ویریږئ.

# پته

**د پولیسو د کډوالی یونټ (POLITIETS UTLENDINGSENHET)**
پولیس د نوی پناه راوړونکو نومونه لیکي.
پولیس همدارنګه هغه پناه غوښتونکي چي د منفی ځواب څخه وروسته بیرته خپلو هیوادونو ته نه ستنیږي، په زور شړي.

**پستي پته:** Postboks 8102 Dep., NO-0032 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Christian Krohgs gate 32, 0186 Oslo
ټیلیفون: 00 24 34 22 47+، فکس: 80 24 34 22 47+
ایمیل: pu@politiet.no

**د کډوالو لپاره ناروېجي ریاست (UDI)**
یوه دولتی اداره ده چي د پناه غوښتنی غوښتنلیکونه، ویزه، د کورنیود غړو راغوښتل او د تابعیت چارې تر غورلاندی نیسی.
د کیمپونو ډیره هم د UDI په غاړه ده.

**پوستي پته:** Postboks 8108 Dep., NO-0032 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Hausmannsgt. 21, 0182 Oslo
ټیلیفون: 00 15 35 23 47+، فکس: 01 15 35 23 47+
وېب سایټ: www.udi.no، ایمیل: ots@udi.no

**د کډوالو نړیوال سازمان (IOM)**
د خپلي خوښي د ستنیدني په هکله معلومات

**پوستي پته:** Postboks 8927 Youngstorget, NO-0028 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Storgata 10a, 2nd floor, 0155 Oslo
ټیلیفون: 20 53 10 23 47+، فکس: 21 53 10 23 47+
ایمیل: osloreturn@iom.int

د اونی کاري ورځي: د سهار له 10 بجو څخه د ماسپښین تر 3 بجو پوري
شنبه او یکشنبي په ورځ: بند

**د ناروې د کډوالولپاره د شکایت کمیټه (UTLENDINGSNEMNDA – UNE)**

یوه نیمه قضایي اداره ده چې د یو ډي آی له خوا د رد شویو اړوندو قضیو شکایتونه ترغورلاندې نیسي.

**پوستي پته:** Postboks 8165 Dep., NO-0034 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Stenersgt. 1B/C, 0050 Oslo
ټیلیفون: 00 50 08 21 47+، فکس: 01 50 08 21 47+
وېب سایټ: www.une.no، ایمیل: postmottak@une.no

**د ناروې سره میاشت (NORGES RØDE KORS)**

د پلټنې خدمتونه وړاندې کوي. د کورنیو د هغو غړو ترمنځ چې د جګړې، شخړې یا مصیبتونو له امله یو له بل څخه بیل شوي وي د ارتباط په بیا ټینګولو کې مرسته کوي.
سره میاشت ستاسو په هکله معلومات یو ډي آی یا نورو ته نه ورکوي.
خدمتونه وړیا دي.

**پوستي پته:** Postboks 1 Grønland, NO-0133 Oslo, Norway
**د ملاقات پته:** Hausmannsgt. 7, 0186 Oslo
ټیلیفون: 00 40 05 22 47+
وېب سایټ: www.rodekors.no، ایمیل: tracing@redcross.no

**NOAS** د بشري حقوقو یوه غیرحکومتي سازمان دئ چې پناه غوښتونکو لپاره معلومات او حقوقي مرستې وړاندې کوي.

په دغه رساله کښې د هغه کسانو لپاره چې په ناروی کې د پناه غوښتنه کوي مهم معلومات شته.

**NOAS (د پناغوښتونکو لپاره نارویجي سازمان)**
د ملاقات پته: تورګاتا 22، اسلو، ناروی
پوستي پته: Postboks 8893 Youngstotget., 0028 Oslo
تیلفون: 60 56 36 22 47+، فاکس: 61 56 36 22 47+
ویب سایت: www.noas.org، ایمیل: noas@noas.org